مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۲۳

ښځې د ښځو دښمنانې

یوې شپیته کلنې ښځې، چې د کابل اوسېدونکې وه، د خپلې خوښې کیسه کوله. دې ویل: خوښي مې ډېره ظالمه وه. د چای پر وخت به یې یوه دانه شیرینې په غاښ ماتوله، یوه نیمه یې ما ته او بله نیمه به یې زما د لېوره ښځې ته ورکوله. د هغې خوله کنډاسه وه، پر شیرینې به یې نارې بهېدلې. زما زړه یې رابداوه، ما به شیرینې ایسته اچوله. خوښي به مې بیګاه خپل زوی ته شکایت وکړ، چې ښځه دې راته وایي، چې ستا خوله مرداره ده. مېړه مې نجار و، هډور او زورور. زه به یې راځملولم، داسې درانه وارونه به یې راباندې وکړل، چې بدن به مې تك شین واوښت او تر څو ورځو پورې به مې ټول بدن خوږېده. دا کار په هفته کې دوه دري واري تکرارېده. پر مور باندې د خوښي بل ظالم دا و، چې مور یې نه پرېښودلو، چې د کور له نارینو سره پر یوه دسترخوان کېنو. دا پخپله له خپلو زامنو سره یو ځای کېناستله. که د دوې له خوراکه به څه اضافه پاتې شوه، مور به خوړله او که نه نو وړې به ځملاستو یا به مو په چایو پورې وچه ډوډۍ خوړله. وچه ډوډۍ، کچالان، پیاز، غوړي، وریجې، چای، بوره او خواږه هرڅه به یې په صندوقونو کې قلفول. د اوړو کندو ته یې جندره وراچوله. په غاړه کې یې د کونجیانو غوټه زنګېدله.
د دې ښځې په کیسې د پخوا زمانو د مریانو او وینزو ژوند رایادېږي؛ خو جالبه دا ده، چې دا هر څه په شلمه پېړۍ کې او هغه هم د هیواد په پلازمینه کې تر سره کېږي.
په همدې منګ یوه بله ښځه، چې د کابل په زاړه ښار کې یې کور و، د خوښو د ظلمونو بل ډول یادوي. د هغې خوښي به هر ماښام د اودان اوبه په لوښتو اندازه کولې او سهار وختي به یې بیا اندازه مالومولې. که به اوبه کمې وې، هغه پوهېدله، چې یوې نرور یې لامبېدلې ده. بیا یې ټولې نرندې تر نظر تیرولې او د اوبو غله به یې پیدا کوله. بیا نو ستغې سپورې وې، زیاړې وې او د نرندو ویښتو ته لاس اچول وو. نرندو بیا د دې لانجې چاره داسې کوله، چې د ضرورت پر وخت به یې د ورځې په اوږدو کې لږې لږې اوبه له اودانه خپلو کوټو ته وړلې او هلته به یې پټولې چې خوښې پرې خبره نه شي.
په دې ورستیو کلونو کې زمور په خپلوانو کې یوې ښځې بیا کار اپوټه کړی و. د ورځې چې مېړه یې خپل کار ته ته، دې به خپلې خوښې ته ډوډۍ نه ورکوله. خوښې یې عاجزه، سپین سرې ښځه وه. د چا په ښو بدو کې به یې کار نه و. زوی ته به یې ځکه شکایت نه کاوه، چې ګوزاره یې وشي. یوه نیمه ورځ مازدیګر، چې زوی به یې له کاره راغی، دې به خپلې نرور باندې غږ وکړ، چې لوړې یوه ګوله ډوډۍ خو راته راوړه، وړې یمه. زوی به یې پوښتنه کړه: ولې؟ دې به ویل غرمه مې ډوډۍ ته خوا نه کېده، اوس وړې شوې یمه. نرور یې بیا له ځان سره بونګېدله، چې زه نو بل کار نه لرم، په ورځ کې به پینځه واړې دسترخوان هواروم.
زمور په ټولنه کې، چې هره بلا د ښځو پر سر نازلېږي، لامل یې پخپله دوی دي. نارینه خو د دوی ګوډاګیان دي. نارینه په دې غره دي، چې د مټ زور لري او ښځه وهلی شي؛ خو له عقله خوار دي. په دې نامه چې مور راباندې حق لري، د هغې په غلطو خبرو او درواغو خپلې ښځې وهي. ما ته کله کله شك رالوېږي، چې ایا جنت به د داسې دروغجنو میندو تر ګامونو لاندې هم وي، چې پر خپلو همجنسو داسې ظلمونه کوي؟ ایا دغه نرندې، چې وهل کېږي، میندې نه دي؟ داسې لیونې نارینه هم شته، چې د خپلو ښځو په وینا پر خپلو میندو ظلمونه کوي، چې دا بیا سوچ کفر دی. خو په دې دواړو حالاتو کې نارینه د ښځو له خوا د ښځو پر ضد استعمالېږي.
که چېرې ښځې په خپلو کې سره جوړې شي او کم عقله نارینه د یوې بلې پر ضد استعمال نه کړي؛ نو د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی به ډېر لږ شي. که نارینه هم تر تاوتریخوالي د مخه لږ فکر وکړي، ملامت او سلامت ځان ته مالوم کړي او بیا د خبرو له لارې مساله حل کړي؛ نو دا به یې لویه توره کړې وي.

۱۳۸۸،۰۶،۲۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ